مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲۵** (از ۱۳ الی ۲۰ سرطان ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**سوله؛ آیا مخامخ خبرې پیل شوې؟**

- د اسلام‌آباد غونډه او د طالبانو دریځ ........ ۴
- افغان-پاک اړیکې په کوم لور؟ ........ ۵
- ولې د اسلام‌آباد منځګړتوب؟ ........ ۵
- د پاکستان فشار او د طالبانو نوې پالیسي ........ ٦
- د سولې د خبرو راتلونکی ........ ۷

**داعش و تحرکات تازه در "اقلیم خراسان"!**

- داعش و طالبان ........ ۹
- جواب داعش به طالبان ........ ۹
- حکمتیار و داعش ........ ۱۰
- آیندۀ گروه‌های تندرو در افغانستان و آسیای میانه ........ ۱۱

## مقدمه

تېره اوونۍ د پاکستان په پلازمېنه اسلامآباد کې د افغان دولت او طالب استازو ترمنځ شوې خبرې، د سیمې او نړۍ د مطبوعاتو په سرټکو کې وې. د دغو خبرو لومړی پړاو د چین په ارومچې ښار کې څه موده مخکې ترسره شو او دویم پړاو یې اوس د جون په اوومه نېټه په اسلامآباد کې ترسره شو.

که څه هم طالبانو په وار وار ټینگار کړی، چې د سولې د خبرو اترو یوازېنی ادرس یې د قطر دفتر دی، خو ویل کېږي چې په دې غونډه کې هم د طالبانو باصلاحیته او مهمو کسانو گډون کړی و. پوښتنه دا ده، چې افغان دولت ولې د پاکستان منځگړتوب ته ترجیح ورکوي او د سولې په خبرو کې به، د پاکستان د منځگړتوب پایله څه وي؟ همدارنگه ولې طالبانو د وروستۍ غونډې په تړاو محتاطانه دریځ خپل کړ؟

په اسلامآباد کې د طالبانو او افغان دولت ترمنځ د مخامخ خبرو دا لومړۍ ناسته داسې مهال ترسره کېږي، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې د افغانستان په ختیزو سیمو کې د داعش ډلې فعالیت خورا ځواکمن شوی او له طالبانو سره یې څرگند ټکر راغلی دی. په دې منځ کې د افغان دولت د وسلهوالو مخالفینو له ډلې، د گلبدین حکمتیار ځانگې حزب اسلامي په یوه نوي دریځ کې خپلو پلویانو ته سپارښتنه کړې، چې د طالبانو پر ضد له داعش ډلې سره ملگري شي. د حکمتیار دغه دریځ به څه پایلې ولري؟ دغه راز د طالبانو او داعش ترمنځ د روانو جگړو پایله به څه وي؟

د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په دې گڼه کې، په همدغو موضوعاتو د مرکز د خپرنیزې ځانگې شننې او څېړنې لولئ.

# سوله؛ آيا مخامخ خبرې پيل شوې؟



په اسلامآباد کې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې په تړاو جوړې شوې غونډې، په نړيواله کچه غبرګونونه له ځان سره درلودل. د سولې دغه خبرې-اترې اسلامآباد ته څېرمه په مري سيمه کې ترسره شوې، چې د باوري سرچينو له قوله د طالبانو له خوا پکې عبداللطيف منصور (د مولوي نصرالله منصور وراره)، حاجي ابراهيم (د مولوي جلال الدين حقاني ورور) او ملا عباس (د طالبانو د روغتيا کميسون د بهرنيو اړيکو مسؤول) مهم ګډونوال وو.

د افغانستان د دولت له لوري هم د بهرنيو چارو وزارت د مرستيال حکمت خليل کرزي تر مشرۍ لاندې، د سولې عالي شورا غړي حاجي دين محمد، د ولسمشر د لومړي مرستيال استازي فيض الله ذکي، د ولسمشر د دويم مرستيال استازي اسدالله سعادتي، د اجرايي رييس استازي عاصم او د اجرايي رييس د دويم مرستيال استازي محمد ناطقي ګډون کړی و.

د دې ترځنګ د چين او امريکا استازو هم د ناظرينو په ډول په دې غونډه کې برخه واخېسته. يوناما، سپينې ماڼۍ، د پاکستان لومړي وزير نوازشريف، پخواني ولسمشر حامد کرزي او يو شمېر هېوادونو هم د دغو خبرو تود هرکلی وکړ.

دا غونډه د پاکستان په نوښت رابلل شوې وه، چې لومړۍ هغه يې څه موده وړاندې د چين په ارومچي ښار کې جوړه شوې وه. که څه هم دا لومړۍ ځل نه دی چې د افغان حکومت او طالب استازو ترمنځ مخامخ خبرې

کېږي، مګر دې غونډې له پخوانیو هغو سره ځینې څرګند توپیرونه درلودل. له دې سره سره د تېرو غونډو په څېر اوس هم دا خبره مطرح وه چې آیا د طالبانو مذاکره‌چیانو په رښتیا هم د اسلامي امارت استازیتوب کاوه او کنه؟

## د اسلام‌آباد غونډه او د طالبانو دریځ

که څه هم له طالبانو سره د سولې خبرې د حامد کرزي د واکمنۍ پرمهال پیل شوې، خو د اشرف غني له راتګ سره د سولې خبرو زور واخیست. اشرف غني په خپل لومړني بهرني سفر کې په دې تړاو له چین سره خبرې وکړې او چین هم چمتو شو، چې د طالبانو، افغان دولت، پاکستان او چین لپاره د یوه پلیټ فارم زمینه مساعده کړي.

په همدې تړاو چین د طالبانو د قطر دفتر د استازو کوربه شو او وروسته بیا په فبرورۍ میاشت کې د چین د بهرنیو چارو وزیر پاکستان ته په سفر ولاړ او هلته یې د افغانستان د ښکېلو لوریو ترمنځ د مصالحې وړاندیز وکړ. وروسته بیا په مې میاشت کې د چین په ارومچي ښار کې د طالبانو، افغان حکومت او د سولې عالي شورا ترمنځ ناسته وشوه، چې د طالبانو رسمي سرچینو هغه خبرې رد کړې. د ارومچي په ناسته کې د طالبانو په استازیتوب ملا عبدالجلیل، محمد حسن رحماني او ملا عبدالرزاق ګډون کړی و.

د ارومچي له ناستې وروسته داسې اټکل کېده، چې د سولې د خبرو اترو دویمه ناسته به هم هلته ترسره شي؛ خو طالبانو د یوې اعلامیې په صادرولو سره دا بهیر رد کړ، چې له امله یې چین هم د دغې ناستې له کوربه‌توبه معذرت وغوښت او بیا د پاکستان د بهرنیو چارو د سلاکار وزیر په وړاندیز دا غونډه په اسلام‌آباد کې جوړه شوه. په دې غونډه کې د لومړي ځل لپاره طالب استازو چې د قطر دفتر غړي نه وو، د افغان حکومت له استازو سره رسماً خبرې وکړې.

طالبانو هم په اسلام‌آباد کې شوې خبرې په صراحت سره رد نه کړې او له دې غونډې وروسته د طالبانو له اعلامیې ښکاري، چې په اسلام‌آباد کې د طالبانو له برحاله او باصلاحیته کسانو سره خبرې شوې دي، مګر یوازې په یوه څرګند توپیر چې دا کسان د قطر دفتر غړي نه وو!

طالبانو ته د نږدې سرچینو له قوله، دا کسان د پرېکړو صلاحیت لري؛ خو د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ډاکټر محمد نعیم وردګ له رسنیو سره په خبرو کې هغه خبرونه رد کړي، چې ګویا په دې غونډه کې د طالبانو د سیاسي دفتر غړو ګډون کړی و. له دې سره هم‌مهاله د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد هم د اعلامیې په خپرولو سره وویل، چې د سولې د خبرو اترو صلاحیت یوازې د قطر له دفتر سره دی.

## افغان-پاک اړیکې په کوم لور؟

د اشرف غني له واک ته رسېدو سره د پاکستان په تړاو د افغانستان بهرني سیاست څرګند بدلون وموند او په ټوله کې د افغانستان بهرنی سیاست پاکستان-محوره شو. که څه هم په پیل کې افغان حکومت د افغانستان د سولې په تړاو خپلې ټولې هیلې له پاکستان سره وتړلې، مګر کله چې د پاکستان ژمنې یوه پر بلې پسې له وخته تېرې شوې، یو ځل بیا د پاکستان د دوه‌مخی په تړاو شکونه زیات شول او افغان حکومت په تېره ولسمشر تر فشار لاندې راغی. له همدې کبله یې پاکستان ته یو توند لیک واستاوه او د کابل-اسلام‌آباد په اړیکو کې د تېر په څېر د بې‌باورۍ نښې ولیدل شوې.

په یوه وروستۍ پېښه کې په پکتیکا ولایت کې د افغان او پاکستاني سرحدي ځواکونو ترمنځ نښته کې اته پاکستاني سرتېري او یو افغان سرتېری ووژل شول، چې له امله یې دواړو هېوادونو د یو بل سفیران هم احضار کړل او اړیکې د خرابېدو پر لور رواني شوې. خو له دې پېښې یوازې څو ورځې وروسته پاکستان د طالبانو ځینې غړي له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کېنول او په کابل کې یې د سولې په تړاو هیلې یو ځل بیا راژوندۍ کړې.

په اسلام‌آباد کې د افغان دولت او طالبانو د استازو رسمي ناسته د دې لامل شوه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ وروستي بې باوري یو ځل بیا له منځه یوسي او د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په خپله اعلامیه کې ولیکل: "د افغانستان د ملي وحدت حکومت د پاکستان اسلامي جمهوریت د دغې لومړۍ لیدنې د اسانتیا برابرولو او د سولې عالي شورا د پلاوي د کوربه‌توب قدرداني کوي او همدارنګه هیله لري چې د دوی دغه مرسته عملي او روښانه پایلې ولري، ترڅو په دواړو هېوادونو کې امن او ثبات تامین شي او دواړه ملتونه له جګړې څخه خوندي شي."[1]

## ولې د اسلام‌آباد منځګړتوب؟

طالبانو د قطر دفتر له جوړېدو راهیسې په دې خبره ټینګار کړی، چې د سولې د خبرو ټول صلاحیت او مسؤولیت د قطر له دفتر سره دی؛ خو د طالبانو له دغه وضاحت سره سره بیا هم افغان حکومت د دې پر ځای چې د طالبانو د قطر له دفتر سره نېغه اړیکه ونیسي، د پاکستان د فشارونو پرمټ په پاکستان کې له ځینو پخوانیو او اوسنیو طالبانو سره د سولې په تړاو خبرې پیل کړې دي.

[1] د رسمي اعلامیې لپاره د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویبپاڼه وګورئ:
http://mfa.gov.af/ps/news/press-release-on-the-first-meeting-of-formal-peace-negotiations-between-official-delegations-of-the-high-peace-council-of-afghanistan-and-the-afghan-t

دا چې اوسني برحاله طالبان ولې په دغو خبرو کې برخه اخلي او په اړه يې اسلامي امارت هم جدي غبرگون نه ښيي، لامل يې ښايي دا وي چې دوی د پاکستان د فشارونو له کبله په دې خبرو کې ونډه اخلي. مگر د طالبانو رسمي سرچينو بيا په وار وار روښانه کړې، چې د خبرو اترو صلاحيت يوازې د قطر سياسي دفتر لري او نور څوک چې په دا ډول خبرو کې برخه اخلي، هغه يوازې د دوی شخصي تصرف دی.

پاکستان او افغان حکومت غواړي، د دغو خبرو له لارې د طالبانو په صفونو کې درزونه واچوي او طالبان په څو ډلو وويشي، د کوم څه لپاره چې له تېرو څو کلونو راهيسې هڅې روانې دي، مگر طالبان بيا تر ډېره بريده د خپل صف د يووالي پر ساتلو بريالي شوي دي. له همدې کبله يې په وروستيو دوو اعلاميو کې هم، چې د سولې د خبرو اترو په اړه يې صادرې کړې، د طالبانو په استازيتوب دغه گډون کوونکي هم نه دي غندلي او ترڅنگ يې د پاکستان له اغېزو هم ځان پاک ښودلی؛ ځکه په اعلاميه کې يې يوازې پر همدې اکتفا کړې، چې د سولې په اړه د خبرو اترو واک يوازې د طالبانو د سياسي دفتر له استازو سره دی.

## د پاکستان فشار او د طالبانو نوې پالیسي

له ۲۰۰۷ کال راهيسې ورځ تر بلې د پاکستان له خوا پر طالبانو فشارونه زياتېږي. د بېلگې په توگه د طالبانو دوه جگپوړي چارواکي ملا عبيدالله اخوند او ملا برادر اخوند د پاکستاني استخباراتو له خوا ونيول شول، چې ملا عبيدالله اخوند بيا د پاکستان په زندان کې ساه ورکړه او ملا برادر لاهم به پاکستان کې نظربند دی. د دې ترڅنگ طالبانو ته د يوې نږدې سرچينې له قوله، له ۲۰۰۷ کال راهيسې تقريباً له ۲۲ څخه زيات طالب مشران د پاکستان د آی اس آی شبکې له خوا وژل شوي دي.

دغه فشارونه ټول په همدې موخه وو، چې له طالبانو څخه د دوی د بهرنيو چارو واک واخيستل شي؛ خو کله چې په افغانستان کې اشرف غني ولسمشر شو او د پاکستان پاليسي هم تر يوه بريده بدله شوه، نو پر طالبانو د پاکستان فشارونه نور هم زيات شول او د همدغو فشارونو په پايله کې لږترلږه يو شمېر طالب چارواکو د چين د ارومچي او اوس بيا د اسلام‌آباد په غونډو کې برخه هم واخېسته.

همدغو فشارونو ته په کتلو سره، طالبانو په رسمي توگه خپله پاليسي بدله کړه. لومړی يې د ارومچي د ناستې په تړاو ويل، چې د سولې د خبرو اترو مسؤوليت يوازې د طالبانو له سياسي دفتر سره دی او بيا يې د اسلام‌آباد له غونډې وروسته په خپله پاليسی کې خورا زيات بدلون راوست او د اسلامي امارت د داخلي سياسي چارو مسؤوليت يې هم دغه دفتر ته وسپاره. په دې اړه طالبانو په خپله اعلاميه کې ويلي: "په همدې اساس له دې وروسته د اسلامي امارت د ټولو خارجي او داخلي سياسی چارو مسوليت يوازې د اسلامي امارت سياسي دفتر ته سپارل شوی، سياسي دفتر پوره واک او صلاحيت لري چې له حالاتو او شرايطو سره سم، کله او په کوم ځای

کې چې وغواړي، له خارجي او داخلی اړخونو سره د اسلامي اصولو او ملي ګټو په نظر کې نیولو سره مذاکرات وکړي او یا یې هم متوقف کړي[2] "

د طالبانو له دغې نوې اعلامیې څرګنده ده، چې طالبان له یوه سخت ازموینښت څخه تېرېږي او په پاکستان کې پرې فشارونه واضح دي. له همدې کبله دوی ډېرې مسؤولیت د طالبانو هغه سیاسي دفتر ته ورکړ، چې له پاکستان څخه لرې او له خپلو کورنیو سره په قطر کې مېشت دي، ترڅو دوی د پاکستان تر فشار او اغېزو لاندې رانه شي.

## د سولې د خبرو راتلونکی

په کابل کې د افغان حکومت د پلاوي له خوا په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د طالبانو یاد شوي استازي د تائید وړ وبلل شول او ترڅنګ یې د خبرو اترو دا پړاو د راتلونکي پړاو لپاره یوه پیلامه وګڼله. د حکمت خلیل کرزي په خبره، طالبانو دوی ته د خپلو غوښتنو او اندېښنو لېست وړاندې کړ؛ چې د بهرنیانو شتون، د امریکا او ملګرو ملتونو تور لېستونه او نور موضوعات هم پکې شامل وو. په دې تړاو دوی باوري دي، چې د طالبانو غړي د خپل مشر ملا منصور په اجازه راغلي وو او په خبرو اترو کې یې بشپړ صلاحیت درلود. افغان پلاوی هیله‌من دی، چې د خبرو اترو دویم پړاو به د روژې له مبارکې میاشتې وروسته پیل شي.

که څه هم ګومان کېږي چې دا ناسته به د طالبانو له سیاسي دفتر سره د خبرو اترو لپاره یوه پیلامه شي او زمینه به ورته مساعده کړي؛ خو دا چې طالبانو د خبرو اترو واک په ټینګار سره د قطر دفتر ته ورکړی، نو که د سولې خبرې د طالبانو له دغه رسمي آدرس پرته له نورو سره کېږي، دا به د سولې په تړاو ښه راتلونکی ونه لري.

که چېرې په رېښتیا هم پر طالبانو د پاکستان فشارونه نه وای، او یا طالبان په رېښتیا هم په دغو خبرو اترو راضي وای نو اړینه وه، چې طالبانو د سیاسي دفتر غړو په دغو خبرو کې ونډه اخیستې وای؛ خو طالبانو نه یوازې دا چې دغه خبرې رد کړې – ځکه چې د خبرو واک یوازې له سیاسي دفتر سره دی او د سیاسي دفتر غړو پکې برخه نه ده اخیستې - بلکې د طالبانو داخلي او خارجي سیاسي چارو بشپړ واک یې هم له پاکستان څخه لرې د قطر سیاسي دفتر ته ورکړ. له همدې کبله داسې برېښي چې د پاکستان په منځګړتوب راتلونکې سوله به، حقیقي سوله نه وي او طالبان نه غواړي چې افغان ملت ته ځان د پاکستان د لاس آله ثابت کړي.

---

[2] د طالبانو د اعلامیې لوستلو لپاره د طالبانو رسمي ویبپاڼه وګورئ:
http://alemara1.org/?p=19802

# داعش و تحرکات تازه در "اقلیم خراسان"!



افغانستان در این اواخر شاهد تحولات سریع است. ظهور گروه "دولت اسلامی" یا داعش در بعضی از مناطق افغانستان بیش از این که در داخل موجب نگرانی شده باشد، کشورهای همسایه و منطقه را نگران ساخته است.

ایران، روسیه، چین، کشورهای آسیای میانه و هندوستان از جمله کشورهای منطقه اند که این تحولات را از نزدیک زیر نظر دارند. سفیر ایران در کابل، در واکنش به این جریانات گفت که کشور متبوعش برای مبارزه با داعش، حاضر به همکاری و کمک با حکومت افغانستان است. در نشست شانگهای نیز فعالیت داعش در افغانستان، از جمله مسایل محوری مورد بحث این نشست بود.

در داخل افغانستان این گروه تا کنون با نیروهای دولتی برخورد نداشته و جنگ خود را در شرق افغانستان با طالبان محدود نگهداشته است تا با راندن طالبان از این مناطق، جای پایی برای خود تدارک نماید.

در جریان این تحولات، گلبدین حکمتیار رهبر حزب اسلامی نیز در سخنانی، ایران را کشوری خطرناک‌تر از اسرائیل خواند و قیام داعش را برحق دانست. بررسی همین تحولات موضوع این تحلیل است.

## داعش و طالبان

در اوایل ماه "می" امسال برای نخستین بار خبر از برخورد میان گروه داعش و طالبان در ولایت ننگرهار به گوش رسید، اما طالبان آنرا رد کردند. در اعلامیۀ طالبان که به تاریخ 10 می به نشر رسید، آنها مدعی شدند که برخورد آنان نه با داعش بلکه با دزدان و اختطاف‌گران بوده است. در اعلامیۀ طالبان آمده بود:

"طی عملیات وسیع در ولسوالی‌های کوت و ده بالا و بعضی نقاط دیگر برعلیه قاتلان، دزدان، اختطاف‌گران و تفنگ‌سالاران، این مناطق از وجود کسانی پاک‌سازی شد که مردم را می‌کشتند، از مردم به زور پول می‌گرفتند و کارهای ضد اسلامی را انجام می‌دادند.

در این رابطه راپورهای بعضی از رسانه‌ها عاری از حقیقت است که مدعی شده بودند، این افراد با کدام گروه اسلامی رابطه دارند و شایع ساختند که گویا میان افراد امارت اسلامی و داعش برخورد صورت گرفته است.

ما به صراحت می‌گوییم که در این منطقه مجاهدین امارت اسلامی فعال اند و رسانه‌ها، این دزدان و راهزنان را که هدفی جز اذیت مردم ندارند نباید با کدام جناح وابسته دانسته و مردم را دچار تشویش سازند."

اما به زودی مشخص شد قضیه به همین ساده‌گی هم نیست. اختر محمد منصور رئیس شورای عالی طالبان که معاون ملا محمد عمر به شمار می‌آید، نامه‌ای به ابوبکر بغدادی فرستاد و از وی خواست، تا از مداخله در افغانستان دست بردارد.

## جواب داعش به طالبان

جواب داعش به این پیام طالبان منفی بود و در نتیجه مشخص شد که گروهی که به نام داعش در شرق افغانستان علیه طالبان می‌جنگد، از حمایت رهبری داعش در سوریه برخوردار است.

اما این جواب داعش فقط یک جواب سیاسی نبود بلکه رهبری این گروه در منطقه‌ای که خودشان آنرا ولایت خراسان می‌خوانند، با صدور فتوایی طالبان را به عنوان یک گروه مرتد، واجب القتل خواند. هرچند این فتوا با نام مستعار "أبوالیاس حنفی" به نشر رسیده بود، اما شباهت شیوۀ نگارش این فتوا و کاربرد اصطلاحات نشان می‌داد که فتوا از طرف مفتی این گروه در "ولایت خراسان" یعنی عبدالرحیم مسلم دوست صادر شده است. در فتوا تصریح شده که هر گروهی که با داعش بجنگد، مرتد بوده و واجب القتل و مباح الدم است!!

در بخشی از این فتوا آمده است: "مخالفین دولت اسلامی کسانی اند که در صف کفار ایستاده‌اند و متحدین آنان مانند کشورهای عربی، شیعیان و روافض که در کفر و ارتداد آنان هیچ شکی وجود ندارد..."

در این فتوا دلایل مرتد بودن طالبان نیز تشریح شده است از جمله وابستگی به "آی اس آی" و دوستی با شخص مرتدی چون مولانا فضل‌الرحمن. اما دلایل دیگری هم در این رابطه ذکر شده است که قابل دقت است، از جمله اینکه طالبان قطر را کشور برادر خوانده‌اند. فتوا این سوال را مطرح می‌کند که آیا دادن صفت برادر به یک کشور مرتد، ارتداد نیست؟

در بخش دیگری از این فتوا، اعلام حمایت طالبان از محمد مرسی و مخالفت با حکم اعدام وی نیز به عنوان نشانهٔ روشن از ارتداد طالبان نشاندهی شده و بازهم این سوال مطرح شده است که آیا مخالفت با اعدام یک مرتد ارتداد نیست؟ در این فتوا اخوان المسلمین و طالبان هردو مرتد و خارج از دایرهٔ اسلام قرار داده شده‌اند.

فتوای این گروه در افغانستان مطابق با روش معمول گروه "دولت اسلامی" است که در سوریه و عراق علیه گروه‌های دیگر از گروه "النصره" گرفته تا شیعیان و یزیدی‌ها اعمال کردند.

## حکمتیار و داعش

در چند روز گذشته نشر یک اعلامیه از طرف حزب اسلامی جناح حکمتیار در شبکه‌های اجتماعی عکس العمل‌های مخالف را برانگیخت، به حدی که حکمتیار مجبور شد تا در صدد اصلاح آن برآید. در این اعلامیه به مجاهدین حزب دستور داده شده بود که در جنگ میان طالبان و داعش، از داعش حمایت کنند. این اعلامیه به عنوان پیوستن حکمتیار به گروه داعش تعبیر شد.

اما اگر به سیاست داعش در قبال گروه‌های دیگر که قبلا به آن اشاره شد توجه شود، حکمتیار هرگز نمی‌تواند از نظر داعش از اتهام ارتداد بدور باقی بماند. حکمتیار در میان رهبران مجاهدین اولین رهبری است که از دوران جهاد تا به امروز، روی انتخاب زعیم از طریق رای مردم تاکید داشته است درحالیکه در شمار محسنات ابوبکر البغدادی که از طرف هوادارانش به نشر رسیده آمده است که "او نخستین حکمران مسلمان است که دیموکراسی و نظام مبتنی بر دیموکراسی را کفر خواند و آنرا انکار نمود".

از سوی دیگر، حکمتیار گاه‌گاهی در مسایل سیاسی موقف‌های ضد و نقیض را نیز اتخاذ نموده است. به عنوان مثال همین اکنون در سایت شهادت که مربوط به جناح وی از حزب اسلامی است دو مصاحبه به نشر رسیده که در آن دو موضع متناقض از وی در مورد دولت اسلامی یا داعش به ملاحظه می‌رسد.

در مصاحبه با سایت انترنتی افغان زواک، داعش را یک حرکت طبیعی مسلمانان علیه تجاوز امریکا و ایران بر جهان اسلام می‌داند و می‌گوید که علیه داعش یک جبههٔ مشترک کفر، نفاق و ارتداد باز شده است و همین عکس‌العمل دشمنان اسلام به عنوان نشانهٔ آشکار و قاطع از حقانیت داعش کافی است.

اما در مصاحبه با سایت انترنتی (ارزشت) می‌گوید: اگر گروه دولت اسلامی سعی در ایجاد گروه‌های وابسته به خود داشته باشد، اشتباه طالبان را تکرار خواهد کرد. سیاست غلط طالبان، آن‌ها را به میدان جنگ با تمام گروه‌های اسلامی کشاند.

## آیندهٔ گروه‌های تندرو در افغانستان و آسیای میانه

هرچند جنگ میان داعش و طالبان اجتناب‌ناپذیر به نظر می‌رسد، اما داعش برای نفوذ در افغانستان با محدودیت‌های بسیار مواجه است. بستر مبارزهٔ ایدیولوژیک که داعش در افغانستان به آن نیاز دارد، قبلا با اشتباهات گروه‌های اسلامی از جمله طالبان، در این کشور به شدت ناهموار شده و امکان سربازگیری بر بنیاد ایدیولوژی را، دشوار ساخته است.

بستر مساعد برای داعش در این منطقه، آسیای میانه است اما ظاهرا داعش تا کنون به این مسئله توجه چندانی نداشته و نمایندگان خود در خراسان را از میان پشتون‌ها انتخاب کرده است. بزرگترین گروه جنگجو در منطقه یعنی حرکت اسلامی ازبیکستان که قبلا هم‌پیمانی خود با یک رهبر پشتون دیگر یعنی ملامحمد عمر را شکسته است، اکنون در بیعت با داعش دچار تردید است.

داعش بعنوان یک گروه سلفی، نمایندگان خود را از میان پیروان همین مسلک انتخاب می‌نماید اما حرکت اسلامی ازبیکستان متشکل از حنفی‌های راسخ العقیده اند. شاید همین مسئله موجب شده که ابوبکر بغدادی در انتخاب نمایندگان خود در خراسان، به قومیت‌های آسیای میانه توجهی نکند. این مسئله مانع دیگری فراراه گسترش نفوذ این گروه به شمال افغانستان و آسیای میانه خواهد بود.

افغانستان بعنوان جغرافیای خشم و خشونت مورد توجه گروه‌های افراطی و تندرو است. نگرانی کشورهای همسایه و منطقه از این وضع در افغانستان و حتی ظهور گروه خطرناکی چون داعش نیز تاکنون به یک همگرایی منطقوی برای کمک به تامین صلح در افغانستان منجر نشده است. بنابراین هرکدام از این کشورها برای مقابله با چالش‌هایی که منشأ آن افغانستان است، خواسته یا ناخواسته به جنگ نیابتی در افغانستان کشانده می‌شوند که جز ادامهٔ خشونت‌گرایی نتیجهٔ دیگری نخواهد داشت.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 747575741 (+93) drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com